مرادزی

۲۰۰۹/۱۰/۱۳

# فاسد دولت او ترهګر د یوې سکې دوه مخونه

که چیري ملاعمر ، ملاحقاني ، ملا انجینرګلبدین چې له دولته بهر دي ترهګر وي ، لکه څنګه چې دي ؛ په کوم دلیل بیا ، رباني ، سیاف، ملا فهیم ، محقق ، خلیلي ، چکړي ، محسني ، مجددي ، ګیلاني ، عبدالله ، قانوني ، اسماعیل خان او په دوی پورې تړلي ولایتي بدماشان، جګړه مار او ډاکوان لکه عطا محمدنور ، انوري او نور چې د کلونو راهیسې په دولت کې د ننه ځای په ځای دي ، ترهګر ونه بلل شي !
دوی ټولو یا د ای ـ اس ـ ای په شیطاني او دوزخي مدرسو کې په ګډه زده کړې کړې او یا د ایران د قم د توندلارۍ او سخت دریځۍ له روزنتون څخه فارغ شوي . که ګلبدین د پنجاب په کاسه لوی شوی او دالخور و ، نو ایا رباني له هغه سره د دالو په یوه کاسه کې نوالې (۱ ) نه دي وهلې !؟
نصرالله بابر د پاکستان د کورنیو چارو پخوانی وزیر او د مجاهدینو او طالبانو د ډلو روزونکی او سمبالونکی، د وطن نومې مجلې سره یو مهال په مرکه کې داسې ویلي وو :
« دا ټیک ده چې په ۱۹۷۳ کال کې انجنر حبیب الرحمان او بیا حکمتیار، احمدشا مسعود او روسته رباني او نور دلته راغلل ، هغوی ته موږ تریننګ شروع کړ......نو د نهضت لومړنیو مجاهدینو ته له اکتوبر ۱۹۷۳ نه تر ۱۹۷۷ پورې ما تریننګ ورکولو، په هغه وخت کې د دوی قیادت دلته و، دوی به د کابل له کالج او یونیورسټي څخه هلکان راوستل او مونږ به تریننګ ورکولو او بیا به مو خپلو خپلو ولایتونو ته لیږل، ترڅو دوی هلته نورو ته درس ورکړي. مونږ دلته دوی هریوه ته بېل بېل کارونه سپارل، رباني به شبنامې او داسې نور شیان لیکل او حکمتیار د ارتباط کارونه کول »
په ۱۹۹۲ کال ، کله چې اته تنظیمه له ایران او اوه تنظیمه له پاکستان څخه لکه د نوح توپان پر افغانستان رانازل شول، دوی هر څه او هر څوک ترخیټې لاندې نه کړل ، زیروح او بې روح یې یو شان له منځه یونه وړل او د پخواني ژوند ټول اثار یې د نیستۍ کندې ته ورټیل نه وهل !
ایا د دوی لنډه واکمني د اسماني کاڼو ، تندرونو ، جکړونو ، ګرد بادونو ، زلزلو ، توپانونو ، خوړونو او اتش فشانونو ټولګه نه وه چې د خلکو کورونه ، شتمنۍ او ژوند یې جاروکړ ، ویې نړاوه او له بېخه یې چپه کړ !
هغه کسانو چې په ۱۹۹۲ کې یې پر دولتي واک خېټه واچوله ، همدا اوس د دولت لوړپوړي چارواکي نه دي !
که له دغو کسانو څخه پوښتنه وشي چې دوی له پخوانۍ اردو څخه پاتې ښېلا ښېلې الوتکې ، ټانکونه او نور وسایل څه کړل ، په چا یې خرڅ کړل ، په دې اړه ملت ته څه ځواب لري ؟
همدارنګه د جنګلک اوسپنې، د ننګرهار کانال او نورې ډیپو ګانې ، د کابل ـ څرخي پله په لویلاره د خلکو د شخصي فابریکو اوسپنې او شتمنۍ یې یې پر چا وپلورلې ؟ ایا همدوی د دولت نورې شتمنۍ لوټ نکړې ، بیت المال یې چور نکړ ؟ دوی چې د کابل ښار یې لوټې لوټې کړ او ۷۰ زره بېګنا کابلیان یې ووژل او اوس هم په دولت کې غوړه ونډه لري له ترهګرو یې څه شي کم دی ؟
ایا همدغه کسان اوس هم دمرکزي دولت د پیاوړتیا مخې ته خنډ نه دي، ډول ډول سبوتاژ نه کوي؟ هېواد کې د امنیت په ګډوډۍ کې وتلی لاس نلري ؟ په پای کې دوی چې هم دولتي ماشین چلوي ، هم د نېشه یې توکو سوداګري کوي او هم یې د دولت په هره ناکامۍ کې لاس دی او دولت یې له دننه خوړلی او فاسد کړی له دولته بهر ترهګرو څخه خورا ډېر زیانمن او بد نه دي ؟
د بن کنفرانس لویه تېروتنه او خطا دا وه چې ، پخواني بنسټپال او توندلارې یې چې اوس ورته ترهګر ویل کیږی نیمایي کړل ، له دوی څخه یوه برخه یې په دولت کې شامله کړه او بله یې له دولته بهر پرېښودله .
که دوی هغه مهال، د ترهګرو ددې دواړو لوریو پرځای ، ملتپالو ځواکونو ته وخت ورکړی وای چې دولت یې جوړ کړی وای ، نن به نه افغان ملت او نه نړیوال ځواکونه له دومره لوی ناورین سره مخ وو !
له بده مرغه د بن کنفرانس د تېروتنې او روسته د همدې تېروتنې د نه سمون او ادامې له کبله ، نن په دولت او ټولنه دواړو کې ترهګر غوښن ځای لري او په هېواد کې یې بدلونپال او ملتپال ځواکونه څنګ ته کړي او ولس یې د تلپاتې بدبختۍ او نهیلۍ په ګړنګ کې غورځولی دی .
کومو ترهګرو چې د دولت په دننه کې یې ځاله جوړه کړې او هغوی چې بیا له دولته بهر دی دواړه یوه موخه تعقیبوي :


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

مرکزي دولت يي بايد پر ښنو ونه دريږي. په ټولنه کې بايد امن او سوله ټينګه نه شي. کډوال بايد بېرته هېواد ته راستانه نه شي . د هېواد بيا رغونه بايد شنده شي . ښوونځي بايد وتړل شي . کاروبار بايد په ټپه ودريږي . ښځې بايد په کورو کې کېنول شي . نړۍ سره بايد دافغانستان جوړونکې اړيکې ونه غځيږي او په لسګونو او سلګونو نورې منفي چارې !

د حل لار هم اسانه او سيخه نه ده ! د ترهګرو موخې او لورى څرګند دى . ټول سره په ګډه که په دولت کې شامل دي او که له دولته بهر ، هغه څه تعقيبوي چې پورته ورته يو څه اشاره وشوه . خو د بدلونپالو او ملتپالو ځواکونو موخې او لورى څرګند نه ښکاري او په ډېرو ټوټو سره ويشل شوي دي !

اوس ددې وخت دى چې وطنپال ځواکونه هم د دولت په دننه او له هغې بهر په يوه واحد چورليځ د راغونډېدو تکل وکړي .

ترڅو چې دا ځواکونه پر يوه مرکز راټول نه شي او د نړيوالو ځواکونو ملاتړ د ځان په ګټه راوانه ړوي ، روان ناورين به د ورانيو ، ويجاړيو او خرابيو نويو او لوړو پوړيو ته ورداخل شي . که يو ځل بيا د دولت دننه او بهر ترهګر ، دولتي واک په ټوله مانا او په ټولو برخو کې ترلاسه کړي ، په هېواد کې به يو بدلونپال او هېوادپال ، نورې خبرې خو پريږده د اوسېدو ځاى ونه لري !

سيمه به په ريښتيني ترهګريستان بدله شي ! دلته به ترهګر روزل کيږي او نړۍ ته به صادريږي.

ګټې به د نورو وي ، خو افغانان به ددې ګټو د قرباني پسونه وي.

د ټولو د بيدارۍ او هوښيارتيا په هيله !

**د سختو لغتونو ماناوې :**

نوالې = غټې غټې مړۍ ، کپالې

د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر ۱۴ مه



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.